

# په سویډن کی کب یا ماهی نیول



# د کب نیولو هر ځای خپل چښتن لری

په سویډن کی د کب نیولو ټولی اوبه خپل چښتن لری او سړی باید د کب نیولو لپاره د اوبو د چښتن اجازه ولری.

د اوبو د زیاتی برخی لپاره سړی کولای شی د کب نیولو کارت واخلی چه په همغه اوبو کی د کب نیولو اجازه ورکوی. که تاسی غواړئ د دی مالومات ترلاسه کړی چه سړی چیری کولای شی کب نیول وکړی او چیری سړی کولای شی د کب نیولو کارت واخلی، نو د سیلانیانو په بورد کی Turistbyrån په دی هکله پوښتنه وکړئ.

بیله اجازی (د کب نیولو کارت) کب نیول د قانون په ضد یو جرم دی او کیدای شی د حبس جزا ولری.

که چیری سړی د هغو اوبو د مقرراتو نه چه کارت یی ورته اخیستی دئ، سر وغړوی نو کیدای شی سړی مجبور شی د کنټرول وجهه kontrollavgift د کب نیولو چښتن ته ورکړی.

TOURIST INFORMATION

د سیلانیانو بورد *Turistbyrån* کولای شی تاسی ته دامالومات درکړ ی چه چیرته د کب نیولو اجازه شته او د کب نیولو کارت چیرته اخیستلای شی. د دی نه پرته دوی کولای شی په هغه اوبو کی چه تاسی هلته کب نیول کوی د مقرراتو په هکله تاسو ته مالومات درکړ ی.

# استثنا - آزاد کارت


د سمندری کربنی نه وروسته او په پنځو لویو جهیلونو کی وینرن. ویترن، میلارین، ییلمارین او ستوربنون په ییمتلاند کی (نقشه وګوری) د لاسی لوازمو په وسیله کب نیول آزاد دی یعنی د دغه ډول کب نیولو لپاره د کب نیولو کارت ته اړتیا نشته.

اما داسی مقررات شته دی چه سړی باید هغه مراعات کړی، د مثال په توګه کب باید څومره لوی وی تر څو سړی دا اجازه ولری چه هغه ونیسی او داسی مقر رات چه ټاکی چه د کوم ډول کب نیول څه وخت او چیری منعه دی.

د دغو مقرراتو نه سر غړونه د قانون په ضد یو جرم دی او کیدای شی د حبس جزا ولری.

**لاسی وسایل**

د لاسی وسایلو مانا دا ده چه کب نیول د کب نیولو په یوه لرګی (۱ دانه)، چنګکی او دوی ته ورته وسایلو چه په رسی مجهزه وی او تر ۱۰ دانو چنګکی ولری، ترسره کیږی.




۵ لوی جهیلونه په دغو او د سمندری کربنی نه وروسته د لاسی وسایلو په وسیله کب نیول آزاد دی.

# د کب نیولو منعه شوی طریقی

په سویډن کی د ښاخی، آکج، نیزی او نورو داسی شیانو په وسیله چه کب سوری کړی، کب نیول منعه دی. همدا راز دا منعه ده چه سړی کب په چنګکه پری کړی. کب باید په خپله اراده په چنګکه خوله ولګوی.

همدا راز د ډزی کوونکی وسلی، چاودیدونکو موادو، زهر او د برښنا په وسیله کب نیول هم منعه دی.

په محلی توګه کیدای شی نور وسایل هم منعه وی. په همدغه دلیل تاسی باید تل د دی مالومات ولری چه هلته چه تاسی کب نیول کوی د کومو وسایلو د استفادی اجازه شته ده.



# لنډیز

- دا د ستا مسولیت دی چه دا مالومه کړی چه هلته چه ته کب نیول کوی کوم مقررات اعتبار لری.
- د سیلانیانو بورد په زیاتو حالاتو کی پوهیږی چه کوم مقررات اعتبار لری، که تاسی مطمئن نه یاست د دوی نه پوښتنه وکړی.
- د کب نیولو لپاره باید د کب نیولو کارت واخیستل شی. د سمندری کرښی نه وروسته او په پنځو لویو جهیلونو کی وینرن. ویترن، میلارین، ییلمارین او ستورښون په ییمتلاند کی استثنا شته ده، هلته د لاسی وسایلو په وسیله کب نیول آزاد دی.
- که څه هم د سمندری کرښی نه وروسته او په پنځو لویو جهیلونو کی کب نیول آزاد دی خو بیاهم د کب نیولو داسی مقر رات شته دی چه باید مراعات شی.

# مالومات له

Fiskevårdsområdena & Fiskevattenägarna
د کب دساتنی د منطقودانجمنو خپله اتحادیه
www.fiskevattenagarna.se

Landsbygds-nätverket 2020
– samverkan för utveckling
www.landsbygdsnatverket.se

EUROPEISKA UNIONEN
Europeiska struktur- och investeringsfonderna

Länsstyrelserna